**اصل مضمون تایید : ۱۹۴/ ۹۸– ۲۷/ ۸/ ۱۳۹۸**

# سوله او د ټولنې لپاره د هغې اړتیا

**اصلاح نهایی گردید:** **فولدرمضامین چاپ شده برج حوت ۱۳۹۸**

**شیخ فریدالله ازهری**

الحمد لله الذي ألف بين قلوب المؤمنين، وأصبحهم بنعمته إخواناً، والصلاة والسلام على من خطب يوماً و معه على المنبر الحسن بن علي رضي الله عنهما فجعل ينظر إليه مرة، و إلى الناس أخرى و يقول : « إن ابني هذا سيد و لعل الله تعالى أن يصلح بين فئتين عظيمتين من المسلمين»«۱» جعله الله امامًا المصلحين، سيدنا محمد و علي آله و صحبه أجمعين، أما بعد:

سوله او پخلاینه د جنتیانو او ښو خلکو عادت دي څرنګه چې الله پاک فرمايي: ﴿وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ﴾ الحجر: ٤٧

**ژباړه**: موږ د دوی[ جنتیانو] د سینو څخه هغه څه چې پکې شتون لری له حسد( کینې) څخه وباسو، د وروروليٰ په حال کې په خپلو تختونو مخ په مخ کونکي ناست وي.

د دې په مقابل کې جګړې او مخاصمې د دوزخیانو کار او صفت دی څرنګه چې الله پاک فرمايي: ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴾ ص: ٦٤

**ژباړه**: دا چې د جهنمیانو یو تربله جګړې یوه حق او و اقع کېدونکې دی.

جنګ او جګړې چې کوم هیواد او وطن کې شتون ولري نو هغه وطن له منځه وړي او نوم يې په ټوله نړۍ کې بد او اعتبار يې له منځه وړل کیږي او اقتصاد يې صفرته را ټیټیږي او د نورو خلکو لاسوهنه د دوی په منځ کې زیاتیږي چې په پایله کې خپل کرغیږن او کمزوره کوونکې کړنې هلته جاري کوي او بالاخره په مرورد وخت سره يې ځان ته غلامان ګرځوو فقر، ذلت، ناچاري، مړینه، معلولیت او ډول ډول ستونزې او کړاوونه را پیدا کوي؛ نو راځئ چې لومړی د صلحې تعریف وکړو تر څو د نامعلوم څیز ته اهمیت او احکامو ثابت نکړو؛ نو و ایو:

**صلحه په لغت کې**:

په لغت کې د فساد ضد په معنی راځی.«۲» صلحه عربي کلمه ده چې د صلح يصلح صلاحاً... څخه اخستل شوې ده.

زبيديﷺ و ايي: ( الصلح السّلم، وهو اتفاق طائفة مخصوصة على أمر مخصوص ). «۳»

**ژباړه**: زبيدي و ايي: صلحه سلم ده او سلم و ايي په يو ځانګړ څیز د يوې ځانګړي ټولي يووالي او اتفاق ته و ايي.

**صلحه په اصطلاح د حنفي فقهې کې**:

امام طحاويﷺ و ايي: ( الصلح من المصالحة وشرعاً عقد يرفع به النزاع ويقطع الخصومة). «۴»

**ژباړه**: صلحه يو تربله روغې ته و ايي او د شرعې په اصطلاح کې صلحه يوه هوکړه ده چې د هغې سره جګړې او شخړې پای ته رسیږي.

**صلحه په اصطلاح د مالکي فقهې کې**:

قاضي عياضﷺ و ايي: ( هو معاوضة عن دعوى يخرج عنه صلح الاقرار). «۵»

**ژباړه**: صلحه د دعوا د تیریدني له کبله څه عوض اخستل دي په دې قید سره صلح د اقرار سره له دغه تعریفه وزي.

**صلحه په اصطلاح د شافعي فقهې کې**:

عمر انيﷺ و ايي: (عقد ينقطع به خصومة المخاصمين). «۶»

**ژباړه**: صلحه يوه هوکړه ده چې د هغې په ذریعه د شخړې کوونکو ترمنځ جګړې پای ته رسیږي.

**صلحه په اصطلاح د حنبلي فقهې کې**:

بهوتيﷺ و ايي: ( و هي شرعاً معاقدة يتوصل بها الى موافقة بين مختلفين). «۷»

**ژباړه**: صلحه د شرعې له پلوه هغه منځۍ هوکړه ده چې د دواړو مختلفو اړخونو مو افقې ته رسول کوي.

د دې تعریفونو په رڼا کې موږ ته دا لاسته راځی چې صلحه هر هغه څه دی چې د دوه ؤ مختلفو اړخونو ترمنځ جګړه، اختلاف، نزاع، مخاصمه، فساد او تربګینی ختموي، د دوی ترمنځ پخلاینه، اصلاح او ورورولي منځ ته راځی.

صلحې ته نږدې نورې هم داسې کلمات په عربي ژبه کې شتون لري چې معاني يې صلحې ته نږدې دي لکه: تحکیم، عفوه، صفحه، ابراء او هبه او داسې نور په دې ټولو کلماتو سره صلحه او پخلاینه را تللی شي.

نو راځئ چې لاندنیو شرعي نصوصو ته پاملرنه وکړو او ټول هغه اغیار چې د موږ هیواد کې فساد، تفرقه، جګړې، او نورو دینونو ته دعوت کول، د نورو فرهنګ رواجول، د موږ هیواد ځان ته غلام ګرځول، موږ او د موږ مقدس دین ضعیف کول غواړي، هغو ته متحد او يو موټی شو او د دې مبارک آیت مصداق وګرزو: ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ آل عمران: ۱۰۳

**ژباړه**: ټول يو ځای شئ، د الله رسی کلکه ونیسئ او ټیت پرک کېږی مه. د الله هغه پیرزوینه دریاده کړئ چې پر تاسې يې کړیدی: تاسي يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسي په زړونو کې مینه واچوله او دهغه په مهرباني او لوربنه تاسي سره ورونه ورونه شواست. تاسي د يوې له اوره ډکي کندي پر غاړه ولاړ واست، الله ځيني وژغورلاست. په دغه شان الله خپلي نښاني تاسي ته څرګند وي، په کارده چې په دغو نښانو سره تاسي ته د خپلي ژغورني سمه لاره په نظر درشي.

راځۍ د دې خپل ګران هېواد او دین دښمنان د خپلو ناوړه موخو ته د نارسیدو پرته نا امید یې کړو او له دهغو ستونزو او دربدریو څخه ځانونه خلاص کړو او قتل قتال، جګړو، دښمنیو او تربګنیو څخه ځانونه وژغورو او د ګاونډیانو او تولو پردوی پالو او د اسلام ضد افکارو اوناوړه شومو اهدافو څخه دا ګران هېواد وژغورو او پردیو قوتونو ته دا بانه پرې نه دو چې دلته جنګ او جګړې دي نو مور؛ ځکه پاتي ګېږو.

**سوله او پخلاینه د آیاتونو په رڼا کې:**

په ډېرو آیاتونو کې په صلحه امر شوی، هغه یې خیر او سبب د ثواب او اجر بللی او د دې په مقابل کې یې جګړې نزاع ناروا او سبب د ضعف د مسلمانانو بللی چې د هغو څخه ځینې آیاتونه د نمونې په توګه په لاندې کرښو کې ذکر کیږي:

۱- الله تعالی فرمایي: ﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۖ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ الأنفال: ١

**ژباړه**: نو له الله څخه وویریږئ او خپل منځي اړیکې سمې کړئ او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت وکړئ که تاسو کامل مؤمنان یاستئ.

۲ . الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ الحجرات: ١٠

**ژباړه**: یقیناً مسلمانان خو یو د بل سره وروڼه دي نو د خپلو ورونړو په منځ کې مناسبات سم کړئ او له الله نه وویریږئ هیله ده چې پر تاسو رحم وکړای شي.

٣ . الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ النساء: ١١٤

**ژباړه**: د خلکو په پټو مجلسونو کې زیاتره څه ښیګڼه نه وي مګر که څوک په پټه توګه د صدقې او خیرات لارښوونه وکړي یا د کوم ښه کار لپاره یا د خلکو په چارو کې د اصلاح کولو لپاره چاته څه وو ایی نو البته دا ښه خبره ده او څوک چې د الله د خوشالولو په خاطر داسې وکړي هغه ته به موږ لوی ثواب ورپه برخه کړو.

۴ .الله تعالی فرمایي:﴿ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ﴾ النساء: ١٢٨

**ژباړه**: روغه جوړه په هرحال ډېره ښه ده.

۵- الله پاک فرمایي: ﴿ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴾ الأنفال: ٤٦

**ژباړه**: د الله ﷻ او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او جګړې مکوئ ضعیف به شئ او قوت به موختم شئ او صبر وکړئ الله له صبر کونکو سره دی.

د دې او داسې نورو آیاتونو په رڼا کې صلحه او جوړښت د مسلمانانو ترمنځ لازم کار دی چې په نه کولو سره یې هر توان لرونکی شخص ګناهګار بلل کیږي؛ نو راځئ چې په دې اړه اوس د خوږ نبيﷺ ځینو لارښوونو ته پاملرنه وکړو:

**سوله اوپخلاینه د احادیثو په رڼا کې:**

**١.** عن أبي الدرداء رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: ( أَلا أُخبِرُكُم بأفضلَ من درجةِ الصيامِ، والصلاةِ، والصدقةِ؟ قالوا: بلى، قال: صَلاحُ ذاتِ البَيْنِ، فَإِن فسادَ ذَاتِ البَيْنِ هي الحَالِقَةُ). «٨»

**ژباړه**: له ابو درداءؓ څخه روایت دی و ایی: رسول الله وفرمایل: آیا تاسو ته په داسې یو کار چې درجه یې له روژې نیولو، لمونځ او صدقې څخه لوړه ده خبر درنکړم؟ صحابه وو وویل بلې، ویې فرمایل: په خپلو کې د چارو اصلاح او جوړښت، ځکه په خپلو کې فساد چارې خربیونکې دي.

٢ . عن أنس بن مالک رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ( لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ). «٩»

**ژباړه**: له انس بن مالکؓ څخه روایت دی چې رسول الله وفرمایل: یو د بل سره دښمني مه کوئ او یو د بل سره رُخّه او کینه مه ساتئ یو بل ته شا مه اړوئ او ای د الله بندګانو: یو د بل سره وروڼه ووسئ او مسلمان ته روا نه ده چې خپل مسلمان وروړ تر دریو ورځو زیات پریږدي یعنی خبرې ورسره ونکړي او ترې خفه واوسي.

**د یاد شوو نصوصو په رڼا کې وایو:**

د اسلام مقدس دین ټولنه دې ته تشویق او هڅولې ده چې د خلکو د زړونو یو ځای والي ته پاملرنه وکړي او د ټولنې خپل منځی چارې اصلاح کړي او دښمنۍ او خرپړتیا په ځای د ورورګلوۍ اړیکې ټینګې کړي، دښمنۍ ډېروختونه د ټولنې ریښې سره پرې کوي او دا چې د جنګ او جګړې په پای کې د دوی تر منځ اړیکې پرې کیږي نو دوی یې له جنګ او جګړې څخه ژغورلې او منع کړې دي او له دوی څخه یې غوښتنه کړې ده چې د یو او بل له سهوو او ښویدنو څخه تیر شي، اسلام د دښمنو په منځ کې سوله او پخلاتوب او له زړونو څخه د د ښمنۍ لرې کول او د خپلو انو او دوستانو ترمنځ اړیکې ساتل د الله د نږدیکت غوره لامل ګڼلی دی او له دې کبله یې په سوله کوونکې انسان لازمه کړې ده چې د سولې په کار کې خپل نیت د الله لپاره سم کړي او له الله څخه د دوی دښمنو ترمنځ په جوړښت کې له الله څخه مرسته وغواړي او ډېره دعاء وکړي او ځان د دین له چارو خبر کاندي. او دا چې د دوو دښمنو ترمنځ د سولې په راوستلو کې عدل او انصاف مراعات کړي او په سوله کوونکی لازم دی چې د سولې راوستلو طریقه او لاره ښه زده کړي په داسې توګه چې د نیکۍ په یادولو سره هریو د بل په نظر کې ښایسته وځلوي او د دوی زړونه د سولې په قبلیدو له کینې او رُخّې څخه پاک کړي څو هر یو د سولې منلو ته چمتو شي او دوی ته هغه اجر او ثواب چې د دې کار په منلو کې ورکول کیږي بیان کړي. سوله کوونکی باید له بشپړ زغم څخه کار واخلي ځکه ده دوو دښمنو خواوو ترمنځ د جوړښت لپاره ملا تړلې ده او د الله نه د دې نیک کار چې ده ورته مټې رانغښتې دي لوی اجر وغواړي.

**په احادیثو کې حضرت محمد ﷺ د ښښې او عفوې بیلګې:**

١– معاویة بن حکم السُلميؓ و ایې: یو وخت مې له رسول الله سره لمونځ کاوه، ناڅاپه یوه سړي وپرنجل، ما په(یرحمک الله) سره جواب ورکړ، ټولو خلکو په ما کې سترګې خښې کړې؛ نو ما ورته وویل: ای میندې مو درباندې بورې شه! څه کیسه ده، چې ټول ما ته ګورئ؟ هغوی شروع شوو، په خپلو

لاسونو یې ورنونه وهل، زه پوه شوم، چې دوی مې له خبرو راګرځوي، خوزه هم غلی شوم، کله چې رسول الله لمونځ پای ته ورساوه – زما مورا و پلار دې تر ده قربان شي، تر ده مې غوره ښوونکی نه تر ده مخکې او نه ورسته لیدلی دی، په الله قسم کوم، چې نه یې ورټلم، نه یې ووهلم او نه یې سټغې سپورې راته وکړې – ویې فرمایل: « ان هذهِ الصلاة لا یصلُحُ فیها شئ من کلام الناس، انما هو التسبیح والتکبیر و قرآءة القرآن»، دا لمونځ دی، په دې کې دنیوي خبرې نه دي صحیح، دا تسبیح، تکبیر او د قرآن کریم تلاوت دی. «۱۰»

۲. د قریشو یو مشهورشخص ابو سفیان چې له اولې ورځې یې هڅه کړې، چې د رسول الله د دعوت مخه بنده کړې او د ده زوی حنظله د بدر په غزا کې ووژل شو او بل زوی یې عمرو بندي شو، د ده حقد او حسد له مسلمانانو سره نورهم زیات شو، په خپله وتو انیده، چې یو ستر صحابي – سعد بن النعمان – بندي کړي او پر خپل زوی یې تبادله کړي.

د احد په غزا کې د مشرکینو د دری زره کسیز لښکر مشر وو، لنډه دا چې تر وروستي بریده یې له رسول الله سره دښمني وپالله، خو په ورستیو کې کمزوری شو، له خوځښت او تفکیره ولوید، دا هغه وخت وو، چې د رسول الله لښکر د مکې د فتحې لپاره په څو کیلومترۍ کې پروت وو، ابوسفیان وپوهیده، چې له مرګه پرته یې بله جزا نه شته، ویرې واخیست، له خپلو پخو انیو ملګرو څخه یې چې له رسول الله سره ملګری شوی وو، د هغه تره عباس بن عبد المطلبﷺ ذهن ته ورغی او هغه ته یې خپل مشکل وویل او هغه نبيﷺ ته بوته جناب رسول الله ورته ووفرمایل: اوس یې بوزه او سبا یې راوله، سبا یې راوسته او رسول الله ته یې وویل آی د الله رسوله! ابوسفیان یو سړی دی چې فخر او ویاړ خوښوي څه ورته ورګړه رسول الله وفرمایل: هو، څوک چې د ابو سفیان کورته ننوتل، هغه په امن دی او چا چې خپله دروازه وتړله، هغه په امن دی. «۱۱» نو د رسول الله بښنې او عفوې ته ځیر شه چې د نړۍ په هیچا کې هم په هغه کچه نشته، موږ هم د همدې ستر لارښود پیغمبرﷺ امتیان یو؛ نو ولې یو تر بله شخړې او جګړې کوو؟

۳. د ابي جهل زوی عکرمه د رسول الله له سخت ترینو دښمنانو شمېرل کیده، دا دښمني له خپل پلاره ورته په میراث پاتې وه، ځکه ابوجهل ته رسول الله د دې امت فرعون ویل، تر وروستۍ سلګۍ پورې یې له رسول الله سره دښمني وکړه، زوی یې عکرمه هم د رسول الله په دښمنۍ کې هغه حد ته ورسید، چې جنګي مجرم او وینه یې مباح اعلان شوه. د عکرمه میرمنې وغوښتل، چې خپل میړه وژغوري؛ تر اسلام منلو وروسته رسول الله ته ورغله، چې د ابو جهل د زوی عکرمه شفاعت وکړي او بېرته په امن مکې ته راستون شي، ورته ویې ویل: «عکرمه له تا نه یمن ته تښتیدلی، ویرېږي، چې ته یې وژنې، هغه ته امان ورکړه» رسول الله له رحمت او بښنې ډک جواب داسې ورکړ: «هو آمن» هغه په امن دی. «۱۲» دا یې ورته و نه ویل، چې د هغه وینه مباح اعلان شوې، د هغه د تور تاریخ یادونه یې ورته و نه کړه او نه یې داسې ورته وویل، چې تا خپله پرون اسلام قبول کړ او نن بیا د نورو شفاعت کوې.

۴ . په ظاهره کې دا ده چې په شخړو او جګړو کې یوه ډله د بلې ډلې خپل او نسکورول غواړي او هیڅکله هم په خپل دښمن باندې ترحم او لاس نیول نکوي؛ نو بیا هم آنحضرتﷺ په جنګو او جګړو کې داسې معیارونه درلودل چې انساني او بشري کرامت ته په عزت او وقار سره کتل، عام وګړي، سپینږیری، ماشومان، ښځې، خادمان، راهبان پکې نه وژل کیدل، جګړه یوازې د جګړه کوونکو سره وه، تخریبي اړخ یې نه درلود، جګړه کونکې که به ماشومان وو هم نه یې وژل، ان چې د دښمن باغونه، ونې او کورونه یې هم نه تخریبول د موته د غزا لښکر ته د رسول الله وصیت دا ډول وو: (... وَ لَا تَقْتُلُوا امْرَأَةً، وَ لَا صَغِیرًا ضَرَعًا، وَ لَا كَبِیرًا فَانِیًا، وَ لَا تَقْطَعُنَّ شَجَرَةً، وَ لَا تَعْقِرُنَّ نَخْلًا، وَ لَا تَهْدِمُوا بَیْتًا). «۱۳»

**ژباړه**: تاسو ښځه، ماشوم او بوډا مه وژنئ، د خرماؤ او عامې ونې مه پریکوئ او کورونه مه نړوئ.

دا رنګه روایت د جندب بن عبد الله البجليﷺ څخه روایت دی:

(... إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى قَوْمٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، وَإِنَّهُمُ الْتَقَوْا فَكَانَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِذَا شَاءَ أَنْ يَقْصِدَ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ لَهُ فَقَتَلَهُ، وَإِنَّ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَصَدَ غَفْلَتَهُ، قَالَ: وَكُنَّا نُحَدَّثُ أَنَّهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَلَمَّا رَفَعَ عَلَيْهِ السَّيْفَ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَقَتَلَهُ، فَجَاءَ الْبَشِيرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ، حَتَّى أَخْبَرَهُ خَبَرَ الرَّجُلِ كَيْفَ صَنَعَ، فَدَعَاهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ: «لِمَ قَتَلْتَهُ؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوْجَعَ فِي الْمُسْلِمِينَ، وَقَتَلَ فُلَانًا وَفُلَانًا، وَسَمَّى لَهُ نَفَرًا، وَإِنِّي حَمَلْتُ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَأَى السَّيْفَ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَقَتَلْتَهُ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، اسْتَغْفِرْ لِي، قَالَ: «وَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟» قَالَ: فَجَعَلَ لَا يَزِيدُهُ عَلَى أَنْ يَقُولَ: «كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ). «۱۴»

**ژباړه**: پیغمبرﷺ د مسلمانانو یو جنګي ټولګی د مشرکانو یو قوم ته ولیږه، دوی د جګړې پر ډګر سره مخامخ شول، په مشرکینو کې یو سړی و چې کوم یو مسلمان به یې په نښه کاوه؛ نو هغه مسلمان به یې وواژه، نو یو مسلمان ورته کمین کې شو، د هغه له یو اندازه بې پروایۍ څخه یې استفاده وکړه، دغه مسلمان أسامة بن زید و، کله چې یې د دغه مشرک په سر توره پورته کړه، نو دغه مشرک وویل: لا اله الا الله، نو أسامة بن زید هغه واژه، نبي کریمﷺ ته د جګړې خبر راوړونکی را ورسېد، پیغمبرﷺ ترې پوښتنه وکړه، خبر راوړونکي ورته هغه کیسه ټوله تېره کړه، او دا یې هم ورته وویل چې هغه مشرک څه او څه کول، پیغمبرﷺ أسامة راوغوښت، او ورته یې وویل: « لم قتلته؟» ولې دې وواژ؟ هغه ورته وویل: ای د الله پیغمبره، په مسلمانانو کې یې درد زیات کړ، فلانی او فلانی مسلمان یې وواژه، د یوې ډلې مسلمانانو نومونه یې ورته واخیستل چې هغه مشرک وژلي وو، بیا یې وویل: نو ما پرې حمله وکړه، کله یې چې توره ولیده؛ نو: (لا اله الا الله) یې وویل، پیغمبرﷺ ورته وویل: «أقتلته» ودې واژه؟ هغه وویل: هو، پیغمبرﷺ ورته وویل: « فکیف تصنع بلا اله الا الله اذا جاءت یوم القیامة؟!، د قیامت په ورځ به د(لا اله الا الله) سره څه کوې چې درته راشي؟ هغه ورته وویل: ای د الله تعالی پیغمبره! ما ته زما د ګناه بخښنه وغواړه، نو پیغمبرﷺ ورته وویل: د قیامت په ورځ به د(لا اله الا الله) سره څه کوې چې درته راشي؟ هغه بیا خپله غوښتنه تکرار کړه، نو پیغمبرﷺ ورته له دې جملې پرته بله جمله نه ویله: د(لا اله الا الله) سره به څه کوې چې د قیامت په ورځ درته راشي؟.

کله چې شخړې او جنګونه د مسلمانانو ترمنځ وي او یو تر بله مسلمانان قتل او وژل جریان ولري نو په وسه او توان لرونکو مسؤولینو او اصحاب النفوذ خلکو باندې لازم دي چې دا ډول جنګونه په هر قیمت چې وي بند کړي او عام مسلمانان د دا ډول وژلو څخه خلاص کړي، ځکه چې د قرآن کریم او احادیثو د امر صیغې کارول شوي دي، که چېرې شخړې او جنګونه و نه دروي نو ټول خلک به د الله پاک په وړاندې ګنهګاروي.

**د مسلمان د وژلو ګناه**:

الله پاک چی انسان یی په خپل لاس او قدرت سره پیدا کړی او هغه ته یی لوړ مقام ورکړی څرنګه به دا ومنی چی دا مخلوق یې د سپکاوي مورد وګرځي او یا له منځه ولاړشي په همدی وجه الله پاک د یوه انسان وژل پرته له شرعي مجوزه د ټولو انسانانو د وژنی سره بر ابر بللی دی او الله پاک د مسلمان قاتل لپاره لوی وعید ذکر کړی:

الله تعالی فرمایی: ﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَـٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴾ النساء: ۹۳

**ژباړه**: او څوک چی یو مؤمن په قصدي ډول سره ووژني نو جز ایی دوزخ دی چې همیشه به په کې وي او الله به ورته په غصې وي لعنت به وربandی کوي او ده ته یې سخت عذاب بر ابر کړی.

په دغه مبارک آیت کی الله پاک پنځه ډوله سزا د قاتل لپاره بیان کړی:

دوزخ، په دوزخ کی دائمي پاتیدل، الهی غضب، لعنت او لوی عذاب دی. د قاتل لومړنی سزا دوزخ او دوهمه یی په دوزخ کی دایمي پاته کیدل( خالدا فیها) له همدی کبله د( جهنم) د ذکر وروسته راغلی چې ډیر ګنهګاران دوزخ ته داخلیږی خو د لږ یا ډیر وخت نه وروسته بیا ورڅخه خارجیږی. خو قاتل داسې نه دی بلکه باید همیشه په دوزخ کی پاته شی.

دریمه سزا دا ده چې الله تعالی به خپل قهر او غضب وربandې نازلوي او دهغه به قتل د ورځی نه د ژوند تر آخري ورځی پوری پخپل ژوند کی د الهي غضب او قهر سره مخامخ وي، او دا قهر او الهي غضب یې مرګ وروسته هم ملتیا کوي.

څلورمه سزا لعنت یعنې د الله د رحمت او مهربانی نه محرومیدل دی علامه مفتی محمد شفیع عثمانی په معارف القرآن تفسیر کې د دغه آیت لاندی لیکي : لعنت عبارت دی له لری کیدو د الله د رحمت نه په زیاتو او بی نهایته رسو ایی او ذلت باندی اخته کیدو او هر څوک چې د الله لعنت وربandې وشي هیڅکله به الهي قرب ته ونه رسیږي او له هر خیرنه به محروم پاته وي لکه چې په بل آیت قر آني کې د لعنت شوو په اړه فرمايي: ﴿ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴾ النساء: ۵۲

په چا چې الله پاک لعنت وو ایی نو هیڅکله به یار او کومک کوونکی پیدا نکړي یعنې داسې به تل او په هر ځای محروم او ناکامه وي.

پنځم سزا چې الله تعالی قاتل وربandې تهدیدوي، لوی عذاب د دوزخ ته تلل پخپله یو دردوونکی عذاب دی خو ځینی دوزخیان دوزخ ته له داخلیدو علاوه په نورو دردونکو عذاب اخته کیږي قاتل به هم همدارنګه وي ځکه الله تعالی بیان کړی چې سخت عذاب یې ورته تیار کړی چې له معمولي عذاب نه به ځو بر ابره سخت او دردوونکی وي

**په ځینو احادیثو کې د مسلمان قتل وعید**:

۱. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ( لزوال الدنیا أهون عندالله من قتل مسلم). «۱۵»

**ژباړه**: د ټولې نړۍ نسکوریدل او نړیدل کم او آسان دي په نزد الله پاک له قتل دمسلمان څخه.

۲– عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ( أول ما یقضی بین الناس یوم القیامة فی الدماء). «۱۶»

**ژباره**: ابن مسعودﷺ رو ایت کوي چې رسول الله: لومړنی مسئله چې دقیامت په ورځ به یې د خلکو ترمنځ فیصله کیږي هغه د قتل دعواګانی دي.د یادونی وړده چې په ځینو رو ایتونو کې راځی: د قیامت په ورځ به لومړی پوښتنه د لمانځه په هکله کیږي او په ځینو رو ایاتو کې راځي چې د شرک او توحید پوښتنه به کیږي پدې اړه علماؤ دا رنګه توضیحات ورکوي : چې د عقیدی اړوند به لومړی د توحید او شرک په اړه پوښتنه کیږي او د عباداتو په برخه کې به لومړی د لمانځه موضوع مطرح کیږي او د حقوق العباد په اړه به لومړی قضاوت د ناحقه وژلی د موضوع په برخه کې ترسره کیږي.«۱۷»

۳– عن ابي هریرة رضي الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ( اجتنبو السبع الموبقات، قیل: یا رسول الله! ما هن قال: الشرک بالله، والسحر و قتل النفس التي حرم الله الا بالحق...) «۱۸»

**ژباره**: له اووه هلاکوونکو ګناهونه ځان وژغورئ پوښتنه وشوه ای د الله رسوله هغه څه دي؟ رسول الله وفرمایل: د الله سره شریک نیول، سحر او دهغه نفس وژل چې وژنه یې الله ناروا کړی مګر په حق سره....

له دې حدیث څخه په ډاګه کیږي چې د غټو نه غټ ګناهونو څخه یو هغه د مسلمان قتل دی، الله پاک دې موږ ترې وساتئ.

**پایله**:

هرې ټولنې ته سوله، پخلاینه او امنیت د خوراکي توکو څخه هم ډیر اړین ده، څرنګه چې ابراهیم عليه السلام د مکې مکرمې اهل ته د رزق څخه وړاندې د امن غوښتنه کوي، چې قرآن پاک موږ ته د هغه قول را نقله وي: ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۖ.. ﴾ البقرة: ۱۲۶ او کله چې ابراهیم عليه السلام وویل آی الله! دا( مکه) یو د امن ښار وګرځوه او د دې له اوسیدونکو څخه چې څوک الله او آخرت مني، ته هر ډول مېوي روزي کړه.

نو چې کله سوله او امن دومره زیات اړین دی حتی چې د دوو ترمنځ جوړښت راوستونکي ته دروغ هم د شریعت له پلوه روا شوي ترڅو د دوو وروڼو منځ کې سوله او روغه راولي، نو راځئ د دې په را وستو کې ټول لاسونو را بډ وهو او خپل ایماني مسؤولیت اداکړو او دا مظلوم ملت، خوار او مسکین ولس، زوریدلي او کړیدلي خلک خپل هیواد وال د پردیو د لاسوهنې څخه خلاص کړو څومره چې جنګ او جګړې زیاتیږي په هغه کچه اسلامي ښوونه او روزنه کمیږي بیا وروسته د دې نوي نسل اصلاح ډیره سخته ده، راځئ چې کوښښ وکړو ترڅو ځوان نسل په ښې تربیې او ښوونې لاندې ونسو چې په راتلونکي کې ښو او متدینو وطنوالو ته خپله رایه ورکړي او هیواد د بریا او نجات لارې ته سوق کړي. وما ذالک علی الله بعزیز

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و علی آله وصحابته أجمعین

**مؤخذونه**:


۱– صحیح البخاري.

٢- القاموس المحيط لمحمد بن يعقوب فيروز آبادي (١/ ٢٩٣).
٣- الزبيدي، السيد محمد مرتضى، تاج العروس، بهرگ ٢، مخ ١٨٢، دار صادر – بيروت، لوموڕی طبعه، ١٩٨٦هـ =١٩٦٦م.
٤- الطحاوي : السيد احمد الحنفي ، الطحاوي على الدر المختار، بهرگ ٣، مخ ٣٥١، دار المعروف بيروط لبنان، دوه همه طبعه:١٣٩٥هـ = ١٩٧٥م.
٥- محمد عليش، شرح منح الخليل على مختصر خليل، بهرگ ٣، مخ ٢٠٠ مكتبة النجاح، ليبيا بدون تأريخ.
٦- العمراني، أبي الحسين يحى بن سالم ، البيان في مذهب الامام الشافعي، بهرگ ٦، مخ ٢٤١، دار المنهاج، بدون التأريخ.
٧- الصلح و أحكامه رسالة الماجستير لعبد الرازق عبد الرحمن اسماعيل من جامعة السودان، مخ ١١، ١٤٣٨هـ = ٢٠١٧.
٨- سنن ترمذى، د حديث شمېره: ٢٥٠٩.
٩- صحيح بخارى، د حديث شمېره: ٦٠٦٥، صحيح مسلم د حديث شمېره: ٢٥٥٩.
١٠- صحيح الامام مسلم بتحقيق محمد فؤاد عبد الباقي، باب تحريم الكلام فى الصلاة ...، حديث رقم: ٣٣.
١١- سنن أبي داود، باب ما جآء في خبر مكة، رقم الحديث: ٣٠٢٢.
١٢- الموطأ رواية محمد بن الحسن.
١٣- السنن الكبرى للبيهقي باب ترک من قتال فيهم من الرهبان، رقم الحديث: ١٨١٥٦.
١٤- صحيح مسلم، باب تحريم قتل الكافر بعد آن قال لآ اله الاالله، رقم الحديث: ٩٧.
١٥- سنن الترمذى ، دحديث شميره: ١٣٩٥.
١٦- صحيح البخاري، د حديث شمېره: ٦٥٣٣.
١٧- فتح البارى شرح صحيح البخاري، باب يوم القيامة، ټوک ١، مخ ٣٩٦، المكتبة الشاملة.
١٨- صحيح البخاري، د حديث شمېره: ٢٧٦٦.